


مجیب الرحمن « خطیبي »



د نشر نیټه : 9 اګست 2015 م


# له تا پوښتم ...؟

زه هم انسان یم
زه هم روح لرم
زه هم زړه لرم
زه هم احساس لرم
شوندې لرم
ویښته لرم
نو ولې وایې چې انسان نه یې ؟
مټ لرم
.. مه خانده
خیر چې توان یې
ستا په لاس کې دی
خیر چې زه تښتیدی نه شم
پښې خو لرم
خیر چې زه خوړی نه شم
خوله خو لرم
نو بیا ولې انسان نه بلل کیږم ؟
خیر زه یو بدخته موجود
ته د ځمکې بختور موجود
خیر چې ته په اسمانونو ګرځې
او زه په ځمکه په خاورو کې
خیر چې زه خور لرم
ته یې نه لرې ؟

خیر چې زه وروور لرم
ته یې نه لري ؟
خیر چې ستا خور له هر لحاظه
ځان پټوې شي راهبه ده
خو که زما خورپته ووته نادانه ده
خیر چې ستا ورور ږیره پرېږدی گرځی
هغه خو مذهبی شو
خو که زما ورور پریښوده وگرځید
بنیادگر ترورېست شو
نو ولې وایې چې ته انسان نه یې ؟
خیر چې ستا وینه سره ده
او خدایه
وگوره زماهم خو سره ده
خو ته یو ازاد....... یې
او زه یو قید مسلمان ...

****

مجیب الرحمن « خطیبي »

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org